﴿ ۷ ﴾

# د افغاني فرهنګ تاریخي ریښې

کله چې د اروپايي کلمې کلچر یا کلتور په مقابل کې یوه جامعه او مانعه کلمه له شرقي ژبو څخه اخلو، نو به د پښتو او دري مشترك لفظ فرهنګ یا د عربي ثقافت وي. او څکه چې کلچر د ژوندانه پر اکثرو اطرافو باندې حاوي وي، نو مادي او معنوي اړخونه لري او د انساني ټولنې یوه پراخه ساحه تر خپلو څانګو لاندې نیسي.

فرهنګي جوړښت او د يوې جامعې د فرهنګ او کلچر سازمان، له ډیرو تاریخي ریښو څخه رازیږي، او د تاریخي تحول او اوښتني احکام ښه پر جاري کیږي. د تاریخ واقعې، د زماني فکري انقلابونه، او د تاریخ د جبر څیني مسلم حقایق او د تیرو انسانانو د ژوندانه او فکر بقایا دي، چې د اوسني فرهنګ شمزۍ ګڼل کیږي.

کله چې موږ "افغاني فرهنګ" یادوو نو زموږ خبري د درو زرو کالو دمخه تاریخ ته ورګرزي، او زموږ د فرهنګ زړې ریښې هم د دغه فرهنګ د لرغوني تاریخ له پیښو سره نښلي.

تر میلادي تاریخ یو زر او څلور سوه کاله دمخه د افغانستان آریایي قبیلې د شرق پلو ته وخوځیدې، او شمالي هند یې ونیوئ د دې دورې کلچر په ویدي کتابو کې بیان سوی دی چې تر اوسه یې زموږ په ژبو ــ

دودونو او اجتماعي چارو کې لا ځنې آثار پاته دي د دوي ژوند پر مالداري او کرنه ولاړ و، او تر دغي دورې وروسته د تاريخي تکامل پر اساس ۱۲۰۰ کاله تر ميلاد دمخه له بدوي اقتصادي نظامه څخه يوه بله د ژوندانه دوره شورو سوه، چې هغه موږ د ښاري ژوند دوره بولو، دلته کلي ــ ښارونه جوړ سول او په منځنۍ ايشيا کي د بلخ ښار بناء سو، او دلته شاهي نظام هم جوړ سو، او زردشت د مزده يسنا دين راوبوست، چې معنا يې د خداى ستاينه ده. ده د اوستا کتاب هم راوړ، نو ځکه د فرهنگ دغه دوره اوستايي بولو.

د دې دورې فرهنگ درې ديني اساسونه لري : ښه منل ــ ښه وېل ــ ښه کول. او د دغي دورې شاهان پيشداديان دي، چې د دوى په سعيه ښاري ژوند ــ کرنه ــ صنعتونه رواج سول، دوى خپل شاهان د "فرايزدى" خاوندان گڼل، نو ځکه دغه شاهان هم د خپل قدسي مقام د ساتلو لپاره په ښه منه، ښه وينه، ښه کړنه مجبور وو، او د دغه فرهنگي حرکت زېږنتون هم بلخ و.

د اوستايي مدنيت او فرهنگ څپې له بلخه په ټول ايران کي خپرې سوې، او دغه فرهنگ د فارس د هخامنشيانو او د اشکانيانو او ساسانيانو په وختو کي د اسلام تر راتگه پوري پاته و، او تر اوسه يې لا هم ځنې اغيزې زموږ د ژوندانه په زاويو کي ښکاري.

دغه د فرهنگ دوې دورې چې لومړى ذکر سوې، سرچيني يې پخپله افغانستان په سيمه کي دي نو ځکه موږ دغه دواړه د افغاني فرهنگ اساس داخلي منابع گڼو.

تر دې دورو وروسته ځنې خارجي اثرونه هم پر افغاني فرهنگ باندې وارد سوي دي او دغه اثرونه د غرب له خوا د يوناني فرهنگ اغيزې وي



چې تر ۳۳۰ ق . م را وروسته د اسکندر د فتوحاتو سره د افغانستان سيمي ته راورسېدې، دلته يوناني ژبه ــ رسم الخط ــ صنعت او يوناني دودونه گرده افغانستان ته را وارد سول، او څلور کاله پس چې اسکندر ولاړ، بيا هم د ده بازماندگان تر څو قرنه پورې په باختر کې شاهان وو، او دوى د افغاني کلتور هغه برخه چې اوس يې مؤرخان هلنيسم بولي، دلته وپالله او د دغه مدنيت گذرگاه هم د شمال او شرق خواته د افغانستان سيمه وه.

د يوناني ثقافت آثار ډېر په افغانستان کې پاته دي، او اوس د دغه مدنيت يو غونډ ښار د تخار په آى خانم کي له خاورو څخه رابرسېره سوئ دئ، د يوناني خط نوشتې پر مسکوکاتو او ډېرو باندې په قندهار، ننگرهار، غزني، بغلان، او نورو ځايو کي پيدا سوي دي او د هنري پلوه هم د يوناني طرز مجسمه سازى ډېر آثار له خاورو څخه را ايستل سوي دي.

د تعمير په فن کي د آى خانم خرابې د پوره يوناني طرز نمونې دي. ودانۍ د سپورټ ميدانونه، د يوناني ارباب انواعو مجسمې او د دوى د تاريخي پهلوانانو بوتونه دا ښکاره کوي چې دلته د يوناني فرهنگ اثرونه د ژوندانه پر اکثرو اړخونو باندي لوېدلي وو، او هم له دغه ځايه د هلنيسم اثرونه هند ته هم د يوناني باختري شاهانو په وسيله رسېدلي وو.

تر اوس دوه ويشت سوه کاله دمخه، د افغاني فرهنگ په تاريخ کي دغه درې وبدي، اوستايي، يوناني ريښې وېنو، مگر تر ميلاد ۲۶۰ کاله دمخه د دې سيمې په سياست او ثقافت کي يوه مهمه پېښه وسوه، چې د دغو درو ريښو سره يې يو څلرم عنصر هم زموږ په فرهنگ کي راگډ کېځ، او هغه ن دا وو : چې د هند د موريا خاندان يو لوى پادشاه اشوکا

بودايي دين ؤمانه او د دغه دين خپروني ته يې ملا وتړله. اشوكا په موقت ډول حېله سياسي سلطه پر شرقي افغانستان تر قندهاره خپره كړه خو وروسته دغه سياسي سلطه نسوه پاته، مگر بودايي دين چي دلته راغلى او خلكو منلى و، پاته سو، او د اسلام تر راتگه پوري پوره لس پېړۍ د دې ځاى د خلكو رسمي دين و.

د بودايي دينه سره ځيني هندي اثرونه هم دې سيمي ته راورسېدل. او مخصوصا د هند صنعتي اغيزې د بت سازۍ په هنر كي داخلي سوې. پخوا به خلكو د يوناني پهلوانانو او ارباب انواعو مجسمې پر هغه يوناني طرز جوړولې مگر اوس د بودا بوتونه جوړول داسي رواج سول ، چي په هر معبد كي به د بودا ــ يا د بودا وشمه روحانيونو مجسمې په سوو او زرو پرتې وې، مگر دغه مجسمې نه يوناني وې نه هندي، بلكي دلته يو خاص هنري مكتب پيدا سو، چي د يونان او هند د مجسمه سازۍ خاصيتونه يې سره گډ كړل او يو مخصوص او ښكلى "افغاني هنر" د كوشانيانو په دوره كي ځني جوړ سو.

د كوشاني افغاني هنر په مكتب كي په افغاني ډول بوتان جوړېدل او دري ژبي هم په دې ډول نمو ونما وكړه، چي په يوناني رسم الخط به كښله كېده، مگر دغه يوناني خط هم د افغاني محيط تر اثر لاندې راغلى و، او ډېر نوي خصايص يې موندلي وو.

په بنا او د تعمير په فن كي يو خاص افغاني سبك پيدا سوئ و، مثلاً هغه ښار چي په تخار كي دئ د آى خانم په نامه موجود دئ، د بنا طرز يې ډېر يوناني دئ، حال دا چي څلور قرنه وروسته د بغلان د سرخ كوتل وداني يو خاص "افغاني ډول" لري چي د يونان او بودائيت اثرونه يې سره گډ كړي دي. د كوشانيانو په عصر كي تر سل ميلادي را وروسته بيا د



اسلام راتگه پوري، زموږ فرهنگ او هنري جوړښت دغه څلور وېدي، اوستايي، يوناني، بودايي ريښې لري چي دوې دمخني يې داخلي او دوې وروستنۍ يې خارجي دي. او د دغو عناصرو په گډون يو ډېر ښكلى او خوږ ثقافت تشكيل سوئ دئ، چي اثرونه يې شرقاً د هند تر متهورا او شمالاً هم تر سيحونه او غرباً تر مرو او طوسه رسېدل.

د ايشيا په تاريخ كي د اسلام او عربو خروج هم يوه خورا لويه واقعه ده، دې واقعې د دنيا په تاريخ كي ډېر اثرونه پيدا كړي دي، د ايشيا سياست، مدنيت، ثقافت، فكري او عقيدوي جوړښت يې پر بل مخ را اړولى دئ چي د افغانستان تاريخ هم د اسلام له راتگه سره په اوومه ميلادي پېړۍ كي پر دې خوا را اوړي. او "افغاني اسلامي" فرهنگ جوړېږي.

دلته عقايد. فكر، هنر، ژبه، ادب، سياست ټوله نوې جوله مومي د اوستا دوگانگي، د بودائيت بت پرستي، د يونانيت ارباب انواع، او د هنر د بت سازۍ لس قرنه دوره، په بت شكني او توحيد بدلېږي، دلته قرآن د اوستا او بودائيت د لوى او كوچني مذهب د كتابو ځاى نيسي، عربي ژبه او اسلامي علوم او عقايد، د اوستا او زردشتيت دوه مننه او پهلوي ژبه له منځه باسي. او د زردشتي از مزديسنا او بودايي مهاينه پر ځاى قرآن او اسلامي فقه درېږي.

دا دئ د افغاني ثقافت پنځم تاريخي توك، چي موږ يې اسلامي يا عربي بولو تر اوسه لا هم دغه عنصر د افغاني فرهنگ مهم بنياد گڼل كېږي.

اوس به له دغي تاريخي څېړني څخه داسي نتيجه واخلو چي د افغانستان سيمه د خپل جغرافي موقعيت په سبب هر كله د مدنيتو او

فرهنګو يو ملتقا يعنی د ګډون ځای دئ، او د مختلفو شرقي او غربي مدنی اغيزو له ګډونه څخه چي له داخلي موادو سره يو ځای سوي دي، هر کله يو "افغاني فرهنګ" دلته جوړ سوئ دئ، او اوس هم وجود لري، چي دا دئ د نولسمي پېړۍ را په دې خوا يو بل شپږم عنصر يعنی "نوی غربي مدنيت" هم ورسره ګډېږي، دغه عنصر د اوسني صنعت او د اوسنيو دنيايي مفکورو څخه نوي مواد زموږ په فرهنګ کي ورو ـ ورو را داخلوي، او د تاريخ جبر خپله څېره ښکاره کوي او ښايي چي د نوي فکري او صنعتي تحوله سره په آينده کي زموږ فرهنګ پر دغه اوسني حالت پاته نه سي، او د زماني له سيره سم نوی شکل ومومي، مګر تاريخي ريښې به يې هر کله معلومي وي. (۱)

(۱) عرفان مجله، ۱۳۴۷ ل کال، ۸ مه ګڼه، ۳۱ ـ ۳۵ مخونه.